# تَوَجُّه اِلَی الله

**01-June-2023**



هفته وراه د سُنّتو ډکه اِجتِماع کښې کیدونکے

د سُنّتو ډک بیان

(For Islamic Brothers)

په يکم جون کال 2023ء د پاکستان په هفته وارو اجتماعاتو کښې کيدونکے بيان

# تَوَجُّه اِلَی الله

په دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- ... اِبتِهَال څه ته وئيلے شي...؟
- ...د انبيائے کرامو عَلَيۡهِمُ السَّلَام مبارکې اداګانې
- ... الوتلو والا ديګ
- ... د بزرګانِ دين ښکلے انداز
- ... په غلام باندې د کرم ځانګړے سبب

پيشکش

اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة (اسلامِک ريسرچ سنټر)

(شعبه بياناتِ دعوتِ اسلامي)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ الله　وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ الله　وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ الله

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَاف (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِیَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاک فضیلت

د حضرت سَهل بن سعد رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دے چې یوه ورځ سرکارِ نامدار، د رسولانو سردار صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بهر تشریف راوړلو، په دې موقع باندې حضرت ابو طلحه انصاري رَضِیَ اللهُ عَنْهُ ور وړاندې شو او عرض ئې اوکړو: یَا رسُولَ الله صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! زما مور پلار دې ستاسو نه قربان شي، نن ستاسو په مخ مبارک باندې د خوشحالۍ آثار معلومیږي. خوږ آقا، د مدینے والا مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: بے شکه اوس جبرئیلِ امین (عَلَیْهِ السَّلَام) زما خنګ ته راغلے وو او هغوئې عرض اوکړو: اے مُحَمَّده صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! چا چې په تاسو باندې یو ځل درودِ پاک اولوستو، **الله** پاک به د هغه په اعمال نامه کښې 10 نیکۍ لیکي او 10 ګناهونه به ئې وران کړي او 10 درجے به ئې اوچتې کړي. (1)

اُن پر دُرود جن کو کَسِ بے کَساں کہیں | اُن پر سَلام جن کو خَبَر بے خَبَر کی ہے (2)

**وضاحت:** هغه خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چا ته چې د بے وسو اسره وئیلے

[1] ... القول البدیع، صفحه:118۔
[2] ... حدائقِ بخشش، صفحه:209۔

شي، څوک چې د هر بے خبره خبر لرونکے دے، په هغوئي دې درود او سلام وي.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د بیان اوریدلو نیتونه

په حدیثِ پاک کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّیَّات د اعمالو دار او مدار په نیتونو دے. (1)

اے عاشقانِ رَسُول! ښه نیت بنده جنّت ته رَسَوي، د بیان اوریدلو نه مخکښې څه ښه ښه نِیَّتونه اوکړئ: مَثَلاً نِیَّت اوکړئ چې د الله پاک د رضا د پاره به بیان اورم عِلمِ دِین به زده کووم تول بیان به اورم د عِلمِ دِین د تعظیم [یعني ادب] په نِیَّت به بااَدبه کښینم نصیحت به حاصلووم د اَحمَدِ مجتبیٰ، مُحَمَّدِ مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پاک نوم چې واورم نو درودِ پاک به لولم.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د سُورۂ مُجَادَله شانِ نزول

یوه فقهي مسئله ده، کومې ته چې ظِهار وئیلے شي، د عِلمِ فِقه په کتابونو کښې د ظِهار پوره باب وي. کومو خلقو چې وَدونه کړي دي، هغوئي له دا مسئلے خامخا زده کول پکار دي، د ظِهَار ساده شان مطلب دا دے چې خپلې ښځې ته د خپلې مور یا خور په شان وئیل مثلاً خاوند خپلې ښځې ته اووئیل: تۀ زما د پاره زما د مور په شان ئې. دا ظِهار وي، د اِسلام په شروع کښې د ظِهار حکم هم د طلاق والا وو، یعني چې کوم کَس به خپلې ښځې ته د خپلې مور یا خور وغیره په شان اووئیل نو د هغه ښځه به

1...بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحه:65، حدیث:1۔

په هغه باندې حرامه شوه.

يوه صحابيه ده: حضرت خَوله بنتِ ثعلبه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہا ، يو ځل د هغې خاوند هغې ته اووئيل: تهٔ په ما باندې زما د مور په شان ئې. په وئيلو خو ئې اووئيل، بيا پښيمانه شو چې دا ما څه اووئيل، او پريشانه شو چې دغه شان خو نکاح ماتيږي، ښځه په خپل خاوند باندې حراميږي. په دې پريشانئ کښې حضرت خوله بنتِ ثعلبه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہا په بارګاهِ رسالت کښې حاضره شوه، ټوله واقعه ئې بيان کړه او عرض ئې اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! زما مال ختم شوے دے، مور پلار مې وفات شوي دي، عمر مې هم ډير شوے دے او بچې مې واړه واړه دي، که چرې دا د پلار سره پريږدم نو د مور نه بغير به د وړو ماشومانو روزنه پالنه څنګه کيږي او که د ځان سره ئې ساتم نو د لوږې به مړه شي، نو داسې کوم صورت دے چې زما او زما د خاوند په مينځ کښې جدائي رانشي. رسولِ رحمت، شفيعِ اُمَّت صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ټول عرض واوريدو او اوئې فرمائيل: ستا د مسئلے په باره کښې زما سره هيڅ حُکم نشته، يعنې تر اوسه پورې د ظِهار په باره کښې څه نوے حکم نه دے نازل شوے او پخوانے دستور دا دے چې د ظِهار سره ښځه حراميږي.

حضرت خَوله رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہا ډيره پريشانه وه، زړه ئې سخت خفه وو، د ماشومانو دپاره ډيره زياته فِکرمنده وه، هغې رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہا بيا بيا په بارګاهِ رسالت کښې عرض اوکړو چې يا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! زما خاوند د طلاق لفظ نه وو وئيلے، هغه زما د بچو پلار دے (يا رسولَ صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! څه لار خو اوښائيئ) خو رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هم يو جواب ارشاد فرمائيلو چې تر اوسه پورې په دې مسئله کښې څه نوے حکم نه دے نازِل شوے.

آخِر دا چې هغې د خپل خواهش مطابق جواب اونه موندلو نو د دُعا د پاره ئې لاسونه

پورته کړل او د **الله** پاک په بارګاه کښې ئې عرض اوکړو: اے **الله** پاکه! زما په **محتاجئ،** بےوسئ او پريشان حالت باندې رحم اوفرمايه، په خپل **محبوب** صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې زما په حق کښې داسې حُکم نازِل کړه چې په هغې زما مصيبت لرې شي. حضرت خوله رَضِیَ اللهُ عَنْهَا لا په بارګاهِ اِلٰهی کښې عرض کولو چې د غمژن زړه دُعا قبوله شوه او حضرت جبريلِ امين عَلَیْهِ السَّلَام وحي راوړله او حاضر شو. (1) په دې موقع باندې د اته وِيشتمې سيپارې د سُورَۀ مُجَادَلَه وړومبې آيتونه نازل شول، **الله** پاک اوفرمائيل:

اَلَّذِیْنَ یُظٰهِرُوْنَ مِنْكُمْ مِّنْ نِّسَآىٕهِمْ مَّا هُنَّ اُمَّهٰتِهِمْؕ اِنْ اُمَّهٰتُهُمْ اِلَّا الّٰٓـِٔیْ وَلَدْنَهُمْؕ وَ اِنَّهُمْ لَیَقُوْلُوْنَ مُنْكَرًا مِّنَ الْقَوْلِ وَ زُوْرًاؕ وَ اِنَّ اللّٰهَ لَعَفُوٌّ غَفُوْرٌ(۲) وَ الَّذِیْنَ یُظٰهِرُوْنَ مِنْ نِّسَآىٕهِمْ ثُمَّ یَعُوْدُوْنَ لِمَا قَالُوْا فَتَحْرِیْرُ رَقَبَةٍ مِّنْ قَبْلِ اَنْ یَّتَمَآسَّاؕ ذٰلِكُمْ تُوْعَظُوْنَ بِهٖؕ وَ اللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِیْرٌ(۳) فَمَنْ لَّمْ یَجِدْ فَصِیَامُ شَهْرَیْنِ مُتَتَابِعَیْنِ

[مَفهُوم] ترجمۀ کنزُالعرفان: ستاسو نه هُغه خلق کوم چې خپلو ښځو ته د خپلې مور په شان اُووائي هغه د هغوئي ميندې [موريانې] نه دي، د هغوئي ميندې خو هُم هغه دي کومو چې هغوئي زيږولي دي، او بيشکه هغوئي ضرور ناخوښه او بالکل دروغ خبره کوي، او بيشکه **الله** ضرور ډير معاف کوونکے، ډير بخښونکے دے (۲) او هُغه کسان چې خپلو ښځو ته د خپلې مور په شان اُووائي بيا د خپلې وئيلې خبرې تدارک (تلافي) کول غواړي نو (د دې کَفّاره) د ښځې او خاوند يو بل ته د نزدې کيدو نه مخکښې يو غلام آزادول دي دا هُغه ده د څه چې تاسو ته نصيحت کيږي، او **الله** ستاسو د کارونو نه ښه خبردار دے (۳) بيا چې څوک

---

1...تفسیر خزائن العرفان، پارہ:28، سورۂ مجادلہ ، تحت الآیۃ: 1 ،صفحہ:1001 بتغیر قلیل۔

مِنْ قَبْلِ اَنْ یَّتَمَآسَّا ۚ فَمَنْ لَّمْ یَسْتَطِعْ فَاِطْعَامُ سِتِّیْنَ مِسْكِیْنًا ؕ ذٰلِكَ لِتُؤْمِنُوْا بِاللّٰهِ وَ رَسُوْلِهٖ ؕ وَ تِلْكَ حُدُوْدُ اللّٰهِ ؕ وَ لِلْكٰفِرِیْنَ عَذَابٌ اَلِیْمٌ ﴿۴﴾

(پاره:28، سورهٔ مُجَادَلَهْ:2تا4)

(غلام) نه مومي نو د ښځې او خاوند یو بل ته نزدې کیدو نه مخکښې مسلسل د دوه میاشتو روژے نیول (په خاوند لازم دي)، بیا چې څوک (د روژو) طاقت نه لري نو شپیته مسکینانو باندې طعام خوړل (لازم دي) دا د دې د پاره چې تاسو په **الله** او د هغه په رسول باندې ایمان اوساتئ، او دا د **الله** حدونه دي، او د کافرانو د پاره دردناک عذاب دے (۴)

په دې آیتونو کښې د ظِهار حکم بیان کړے شو چې کوم کَس د خپلې ښځې سره ظِهار اوکړو، هغه ډیره غلطه اوکړه، اوس د هغه دپاره حکم دا دے چې هغه خپلې ښځې ته نه شي نزدې کیدے، په هغه باندې لازم دي چې د ظِهار په کفاره کښې یو غلام آزاد کړي، که دا نه شي کولے نو پرله پسې دې 2 میاشتې روژې اونیسي، که دا هم نشي کولے نو په 60 مسکینانو دې 2 وخته په مړه ګیډه ډوډۍ اوخوري. (1)

## صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!　　صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! په دې ایمان تازه کوونکې، او سبق آموز قرآنې واقعه باندې غور اوکړئ! مونږه لږ تصور خو اوکړو چې حضرت خوله رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا هغه وخت څومره په درد او تکلیف کښې ګرفتاره وه، مور پلار ئې وفات شوي دي، خپل عمر ئې زیات شوے دے، بچي ئې واړه دي، په دې حالت کښې د خاوند د جدائیۍ معامله ورپیښه شوه، په دغه وخت کښې به د هغې په زړه د غم غر پروت وو، په دې حالت کښې چې کله هغې د **الله** پاک په بارګاه کښې دُعا اوکړه نو د هغې د یو دردناک آه په

1...فتاوی رضویه، جلد:13، صفحه:269 ملتقطاً۔

برکت سره تر قيامته پورې د مسلمانانو د پاره آساني اوکړې شوه، د ظِهار حکم چې مخکښې د طلاق والا وو، په هغې کښې کمے راوستے شو. معلومه شوه: چې د درد نه ډک يو آه هُغه کار اوکړي کوم چې په بَله څه ذريعه نشي کيدے.

## اِبتِهَال څه ته وئيلے شي...؟

زمونږه په معاشره کښې بعضې خلق ګيله کوي چې ډيرې دُعاګانې مو اوکړې خو نه قبليږي، اَوّل خو دا ياد ساتئ چې هره دُعا خامخا قبليږي، دا ضروري نه ده چې مونږه څه اوغواړو نو مونږ ته دې هُم هغه ميلاو شي، بعضې وخت زمونږ د دُعا په برکت سره زمونږ نه مصيبتونه لرې کړے شي، بعضې وخت چې مونږه څه اوغواړو د هغې نه مونږ ته افضل او بهتر عطا کړے شي او بعضې وخت هغه دُعا مونږ له زمونږ د آخرت د پاره محفوظه کړے شي. غرض: هره دُعا قبليږي. بيا مونږ له په دې هم د غور کولو ضرورت دے چې دُعا څنګه اُوغواړو؟ زمونږه په معاشره کښې ډير خلق داسې دي کومو له چې د دعا غوښتلو طريقه هم نه ورځي، د دُعا په آدابو کښې دي چې په زړه کښې د غم کيفيت پيدا کولو سره دُعا اوغوښتلے شي، يوه اصطِلاح ده: **اِبتِهَال**، يعنې په دُعا کښې ژړا فرياد کول، لاسونه پورته کول او په پوره تَوجُّه سره د **الله** پاک په بارګاه کښې عرض کول. (1)

دا زمونږه د خوږ آقا، مدينے والا مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ښکلې سُنَّت دې. څکه د **الله** پاک په حضور کښې په ژړا او زارئ او فرياد سره، په پوره تَوجُّه سره د دعا غوښتلو عادت جوړ کړئ! چې داسې دعا غواړو نو اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِيم! برکتونه به مو نصيب کيږي.

ميں ہوں بندہ تُو ہے مولیٰ | تُو ہے قادِر، ميں ناکارہ

1...نضرة النعيم، جلد:2، صفحه:2.

| | |
|---|---|
| میں منگتا تُو دینے والا | یااللہ! مری جھولی بھر دے |
| بخش دے میری ساری خطائیں | کھول دے مجھ پر اپنی عطائیں |
| برسا دے رحمت کی برکھا | یااللہ! مری جھولی بھر دے[1] |

## د انبيائے کرامو عَلَيْهِمُ السَّلَام مبارکې اداګانې

په قرآنِ کريم کښې يو سُورت دے: سُورَةُ اَنبِيَاء. په دې مبارک سُورت کښې د ډيرو انبيائے کرامو عَلَيْهِمُ السَّلَام ذِکر دے، په دې کښې خاص طور د انبيائے کرامو عَلَيْهِمُ السَّلَام دا صِفت بيان شوے دے چې د **الله** تَعَالٰی پاکو نبيانو عَلَيْهِمُ السَّلَام به د **الله** پاک په حضور کښې دعاګانې کولې، چې څه سخته به پيښه شوه، څه پريشاني به وه، د هغوئي د تَوَجُّه مرکز به د **الله** پاک **ذات مبارک** وو، هغوئي به **الله** پاک ته فرياد کولو، د هغه په حضور کښې به ئي دعاګانې کولې.

❁ حضرت نُوح عَلَيْهِ السَّلَام تقريباً 950 کاله خپل قوم ته د نيکۍ دعوت ورکړو خو هغه بدبخته کافِرانو ايمان رانوړلو، هغه بدبختو به هغوئي عَلَيْهِ السَّلَام ته مَعَاذَ الله! تکليفونه ورکول، جسماني زور زياتے به ئي هم پرې کولو، آخر حضرت نُوح عَلَيْهِ السَّلَام د الله کريم په بارګاه کښې دُعا اوکړه، **الله** پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| فَاسْتَجَبْنَا لَهٗ فَنَجَّيْنٰهُ وَ اَهْلَهٗ مِنَ الْكَرْبِ الْعَظِيْمِ ﴿۷۶﴾ (پاره:17، سورةُ اَنْبِيَاء:76) | [مَفهُوم] ترجمهٔ کنزُالاِيمان: نو مونږه د هغه دعا قبوله کړه او هغه ته او د هغه د کور کسانو ته مو د لوئے غم نه خلاصے ورکړو. |

د حضرت نُوح عَلَيْهِ السَّلَام د دې دُعا په نتيجه کښې په کافِرانو باندې د سيلاب ډير

1...وسائل بخشش، صفحه:122 123 ملتقطاً۔

لوئے عذاب راغلے او هغوئي ئې تباه او برباد کړل. [1]

❁ هم دغه شان چې کله په حضرت اَيُّوب عَلَيْهِ السَّلَام باندې ازمېښت راغلو نو هغوئي دعا اوکړه:

اَنِّیْ مَسَّنِیَ الضُّرُّ وَ اَنْتَ اَرْحَمُ الرّٰحِمِیْنَ ﴿۸۳﴾ (پاره:17، سورۂ اَنْبِيَآء:83)

[مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالعرفان: چې بيشکه ما ته تکليف رارسيدلے دے او ته د ټولو رحم کوونکو نه زيات رحم کوونکے ئې.

د هغوئي دُعا قبوله شوه، اللّٰه پاک فرمائي:

فَاسْتَجَبْنَا لَهٗ فَكَشَفْنَا مَا بِهٖ مِنْ ضُرٍّ وَّ اٰتَیْنٰهُ اَهْلَهٗ وَ مِثْلَهُمْ مَّعَهُمْ رَحْمَةً مِّنْ عِنْدِنَا وَ ذِكْرٰى لِلْعٰبِدِیْنَ ﴿۸۴﴾ (پاره:17، سورۂ اَنْبِيَآء:84)

[مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالعرفان: نو مونږ د هغه دُعا قبوله کړه او په هغه چې کوم تکليف وو هغه مو ترينه لرې کړو او مونږ له خپله طرفه رحمت اوکړلو او د عبادت ګزارو د نصيحت د پاره مو ايوب ته د هغه د کور کسان او هغوئي سره هُم هغه همره نور عطا کړل.

❁ په حضرت يونُس عَلَيْهِ السَّلَام باندې چې ازمېښت راغلے وو، هغوئي د مهي ګېډې ته تلي وو، هغوئي د هغه ځائے نه اللّٰه پاک ته فرياد اوکړو، اللّٰه پاک اوفرمائيل:

فَاسْتَجَبْنَا لَهٗ ۙ وَ نَجَّیْنٰهُ مِنَ الْغَمِّ ؕ وَ كَذٰلِكَ نُـْۨجِی الْمُؤْمِنِیْنَ ﴿۸۸﴾ (پاره:17، سورۂ اَنْبِيَآء:88)

[مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالعِرفان: نو مونږ د هغه دُعا قبوله کړه او هغه ته مو د غم نه خلاصے ورکړو، او مونږه ايمان والؤ ته هُم داسې نجات ورکوو.

❁ د حضرت زکريا عَلَيْهِ السَّلَام اولاد نه وو، هغوئي زيات عمر ته رسيدلي وو، د هغوئي

---

1...تفسير طبری، پاره:17، سورۂ انبياء، تحت الآية:7776، جلد:9، صفحه:4948

بي بي حضرت اِیشَاء رحمۃُ اللہِ علیہا هم شَنډه وه، په دې حال کښې حضرت زکریا علیہِ السّلام دُعا اوکړه:

رَبِّ لَا تَذَرْنِیْ فَرْدًا وَّ اَنْتَ خَیْرُ الْوٰرِثِیْنَ ﴿۸۹﴾ (پارہ:17، سورۂ اَنْبِیَآء:89)

[مَفھُوم] ترجمۂ کنزُالعِرفان: اے زما رَبه! ما یواځې مه پریږدې او ته د ټولو نه بهتر وارث ئې.

الله پاک ارشاد اوفرمائیلو:

فَاسْتَجَبْنَا لَهٗ ٘ وَ وَهَبْنَا لَهٗ یَحْیٰی وَ اَصْلَحْنَا لَهٗ زَوْجَهٗ ؕ (پارہ:17، سورۂ اَنْبِیَآء:89)

[مَفھُوم] ترجمۂ کنزُالعِرفان: نو مونږه د هغه دُعا قبوله کړه او هغه ته مو یَحیٰی عطا کړو، او د هغه د پاره مو د هغه بي بي قابله جوړه کړه.

سُبْحٰنَ الله! اے د خوږ نبي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! دا انبیائے کرام علیہِمُ السّلام دي، د ټولو نه د اوچتې مرتبې والا هستیانې دي، هغوئي ته به چې کله هم څه پریشانې پیښیدله، څه سخته به وریپښه شوه، نو هغوئي عَلَیْهِمُ السَّلَام به الله کریم ته فریاد کولو، د هغه طرف ته به ئې تَوَجُّه کوله، د هغه په حضور کښې به ئې عرض کولو او په کوم انداز کښې به ئې دعاګانې غوښتلې؟ الله پاک فرمائي:

وَ یَدْعُوْنَنَا رَغَبًا وَّ رَهَبًا ؕ وَ كَانُوْا لَنَا خٰشِعِیْنَ ﴿۹۰﴾ (پارہ:17، سورۂ اَنْبِیَآء:90)

[مَفھُوم] ترجمۂ کنزُالعِرفان: او مونږ ته به ئې په ډیر رغبت او ډیرې ویرې سره آواز [د دُعا د پاره فریاد] کولو، او زمونږ په حضور کښې به د زړه د اخلاصه ټیټیدل (۹۰)

دا هغه بنیادي خبره ده، د کومې چې زمونږه په معاشره کښې کمے دے، مونږه د تَوَجُّه اِلَی الله نه محرومه یو، مونږ الله پاک ته فریاد نه کوو، د هغه په حضور کښې په صحیح انداز کښې دعاګانې نه کوو. دا د انبیائے کرامو علیہِمُ السّلام سُنّت دي چې دُعاګانې به ئې کولې، څنګه به ئې کولې: په داسې انداز کښې به ئې دعاګانې کولې

چې د **الله** پاک د پټ تدبیر نه د ویریدلو سره به ئې د هغه په رحمت باندې د پوخ باور ساتلو سره، په پوره رغبت سره، د عاجزئ سره دعاګانې کولې. کاش! چې مونږ ته هم په دې انداز کښې دُعاګانې غوښتل او د خپل **الله** پاک په حضور کښې د ژړا توفیق رانصیب شي. اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم .

## زمونږ سره اسباب مَحدُود دي

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! یاد ساتئ! مونږه انسانان یُو او په ظاهره زمونږ سره د ژوند تیرولو او د خپلو مسئلو حل کولو د پاره ډیر اسباب دي خو دا هم حقیقت دے چې زمونږه اسباب ډیر محدود دي، ډیر ځله په ژوند کښې داسې موقعې راځي چې زمونږه ټول امیدونه ختم شي، زمونږ د پاره ټولې دروازې بندې شي، بعضې وخت چې کله د څه رقم حاجت راپیښ شي نو کله نا کله مایوسه شُو، بنده خپل ورور ته طمع لري خو د ورور نه ورته قرض میلاو نه شي، کوم مالداره ګس نه ئې اُوغواړي خو مالداره ګس هم ورته معذرت اوکړي، دوستان او خپلوان ئې هم د ضرورت مطابق رقم انتظام نشي کولے، په داسې وخت کښې چې زمونږ د پاره ټولې دروازې بندې شي، هیڅ اُمید باقي پاتې نشي، بنده مایوسه شي خو لږ غور اوکړئ! کله چې ټول امیدونه ختم شي نو دغه وخت هم یو امید پاتې وي، کله چې ټولې دروازې بندې شي نو دغه وخت هم یوه دروازه برسیره وي او هغه دروازه زما د رَبِّ کریم دروازه ده، د بادشاهانو دروازې بندې شي، زما د رَبِّ کریم دروازه چرې هم نه بندیږي، خلق تعاون پریږدي، دوستان خپلوان مخونه واړوي، ورور د ورور نه ځان خلاصوي خو زما خوږ **الله** پاک خپل بندګان نه مایوسه کوي. دې دروازې ته که نیکان خلق راشي هغوئې ته ئې هم ورکوي او که ګنهګاران راشي نو هغوئې له ئې هم ورکوي.

## سیټهـ صاحب له خوب ولې نه ورتلو...!

یو مالداره ګس وو، خپل ګاډے، خپله بنګله، ښه کاروبار، د **اللّٰه** پاک ورکړې هر څه ورسره وو، یو ماښام هغه کور ته راغلے، د ماشومانو سره ئې څه وخت تیر کړو، د ماښام ډوډئ ئې اوخوړله، خپل ضروري کارونه ئې پوره کړل، چې د اوده کیدو وخت شو نو په پسته نرمه بستره باندې څملاستو خو د حیرانتیا خبره وه چې نن ورله په نرمه نرمه بستره باندې خوب نه ورتللو.

خوب هم د **اللّٰه** پاک نعمت دے، چا ته ئې چې عطا کړي، هم د هغه نصیب کیږي. هغه مالدار ګس ډیر وخت ډډه په ډډه اوښتو راوښتو خو خوب وو چې هډو د راتلو نوم ئې نه اخستو، ډیر وخت تیر شو، آخر هغه سوچ اوکړو، دلته خو هم وزګار پروت یم، ولې نه چې بهر په تازه هوا کښې ساه واخلم، دا سوچ ئې چې اوکړو نو ګاډے ئې راویستو او بهر را اُووتللو، څه کار خو ئې وو نه، هسې اخو دیخوا ګرځیدو، په ګرځیدو ګرځیدو ئې په یو ځائے کښې جُمات اولیدو، په زړه کښې ئې راغلل چې هسې ګرځم راګرځم، ولې نه چې جُمات ته لاړ شم. ګاډے ئې په پارک کښې اودرولو، جُمات ته لاړو، اودس ئې اوکړو او د جُمات د هال طرف ته روان شو، تللو تللو ناڅاپه اودریدو، ټول جُمات خالي وو خو د یو ګوټ نه په قلاره قلاره د ژړا او سلګو آواز راتلو، مالداره ګس چې اوکتل نو څوک غریب وو، هغه لاسونه د دُعا د پاره پورته کړي وو، د سترګو نه ئې اوښکې بهیدلې او هغه په ژړا ژړا د **اللّٰه** پاک په بارګاه کښې عرض کولو: اے **اللّٰه** پاکه! زما لور بیماره ده، ډاکټر د آپریشن وئیلي دي، ما غریب سره خو پیسې نشته، اے کریم **رَبَّه!** تهٔ اسباب جوړولو والا ئې، زما د غریب په کمزورې حالت باندې د رحم نظر اوفرمائے. هغه مالداره ګس د خوب نه ورتللو په سبب پوهه شو، هغه د غریب خوا له ورغلو، په جیب کښې چې ئې څومره پیسې وې راوائې خِستلې او هغه له ئې ورکړې او خپل کارډ ئې

ورکړو او ورته ئې اُووئيل چې اوس زما سره هم دومره پيسې دي، که د نورو ضرورت شو نو په دې پته باندې راشه.

غريب انسان اګرچې غريب وو خو د هغه زړه د لالچ نه پاک وو، هغه کارډ واپس ورکړو او اوئې وئيل: وروره! زما سره د مخکښې نه يوه پته موجوده ده. مالدار ګس ترينه په حيرانتيا سره پوښتنه اوکړه: هغه د چا پته ده، چې پته درسره وه نو هغه ځائے ته ولې نه تللې؟ غريب ګس په سادګئ سره اووئيل: هُغه چا چې نن دا وخت تاسو زما خوا له راليږلي ئې، زه د هغه په در کښې ناست يم. نن زما ضرورت پوره شو، بيا چې مې کله ضرورت شو نو بيا به هُم دې در ته راشم.

کیوں کر نہ میرے کام بنیں غیب سے حسن
بندہ بھی ہوں تو کیسے بڑے کارساز کا[1]

**اے د خوږ نبي** صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** تاسو اوکتل! زمونږه اَسباب محدود دي، چې کله زمونږه اُميدونه ختم شي، دروازې راته بندې شي، سختئ او پريشانئ راته پيښې شي نو دماغ مو کار پريږدي، طاقت، قوت، رابطے هيڅ مو په کار نه راځي، په داسې وخت کښې صِرف يوه اسره وي هغه کومه اسره ده؟ هغه زمونږه د خوږ **الله** پاک پاکه بارګاه ده، د هُغه در نه څوک هم مايوسه نه ځي، د هُغه در نه څولئ ډکيږي، د هُغه در نه خيرات ميلاويږي او په داسې انداز کښې ميلاويږي، د داسې ځائے نه ميلاويږي چې د بنده په وهم او ګُمان کښې هم نه وي.

## الوتلو والا ديګ

د مَکْتَبَةُ الْمَدِيْنه ډير ښکلے کتاب دے: عُیُونُ الحکایات، په دې کښې ډيرې ښکلې ښکلې

1...ذوق نعت، صفحه:18۔

رښتوني او د سبق نه ډَکې واقعې لیکلے شوې دي، د عُیُونُ الحکایات په جلد: 1، صفحه 86 کښې دي: حضرت بِکر بن عبد الله رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه فرمائي: پخوانو قومونو کښې یو ډیر سرکشه، کافِر او ظالم بادشاه وو، هغه د **الله** پاک په نافرمانئ کښې د حد نه وتلے وو، یو ځل په یو جنګ کښې هغه بادشاه اونیولے شو، د هغه د وژلو د پاره مختلف قِسمه سزاګانې تجویز کیدلې، آخر دا اوټاکلے شوه چې ظالم بادشاه دې د اوسپنې په یو لوئے دیګ کښې واچولے شي او په اوچت ځائے دې کیښودلے شي او وور دې وریسې بَل کړے شي. هم داسې اوکړے شو، د اوسپنې په یو لوئے دیګ کښې بادشاه واچولے شو او لاندې وریسې وور بَل کړے شو، په مزه مزه دیګ ګرمیدو، د بادشاه بدن سوزیدل شروع شو، بادشاه کافِر وو، د دروغژنو خدایانو عبادت به ئې کولو، ځکه ئې په سخته کښې خپلو دروغژنو خدایانو ته نعرې شروع کړې، په نمبر نمبر ئې یو یو ته نعرې وهلې خو افسوس! ټول عمر ئې چې چا، چا ته سر ټیټ کړے وو، د کومو دروغژنو خدایانو مخې ته چې ئې تندے مږلے وو، په دې سخت وخت کښې هغه دروغژنو خدایانو نه د ده چغې اوریدے شوې او نه ئې واوریدې. د دښمن ملک دے، نه ئې خپل فوځ شته، نه خپل خپلوان، په داسې وخت کښې ئې دروغژنو خدایانو هم چغې نه اوریدې، ټول اُمیدونه ئې ختم شو، ټولې دروازې ورته بندې شوې، نو دا بادشاه د مسلمانانو **رَبّ** یعنې یو رښتوني خدائے **اللهُ رحمان و رحیم** ته مُتَوَجِّه شو او په تیز آواز ئې لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وئیل شروع کړل، بادشاه په دې سخت وخت کښې په رښتوني زړه سره توبه کړه، د **الله** پاک په عظیمه بارګاه کښې د بادشاه توبه قبوله شوه، ناڅاپه باران شروع شو، د باران په وجه وور مړ شو، بیا ډیره تیزه سیلئ راغله، دومره تیزه چې دیګ ئې سره د بادشاه په هوا کړو، بادشاه د دیګ سره په هوا روان وو او په زوره زوره ئې لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وئیلو، هوا دیګ یو کافِر قوم ته یوړلو او هلته ئې کوز کړو، خلقو چې کله اوکتل چې یو ګس کوم چې د دیګ

سره په هوا راغلے دے او د هغه په ژبه باندې کلمۀ طیبه جاري ده نو خلق د هغه نه ګیر چاپیره راجمع شول، بادشاه هغه خلقو ته خپله واقعه واوروله، کله چې هغه کافِرانو د سبق نه ډکه دا واقعه واوریدله نو ټولو کلمه اووئیله او مسلمانان شول. (1)

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! تاسو اوکتل! کوم بنده چې په رښتوني زړه سره د **الله** پاک طرف ته تَوَجُّه اوکړي، د **الله** پاک طرف ته رُجوع اوکړي، په رښتوني زړه سره **الله** پاک ته فریاد اوکړي، **الله** پاک د هغه بنده د پاره څنګه څنګه اسباب پیدا کوي...! خو د افسوس خبره ده، نن سبا زمونږ په ژوند کښې دا خبره ورځ په ورځ کمیږي، مونږ ته پته ده چې زمونږه سره اسباب محدود دي، مونږ ته معلومه ده چې مونږه مُحتاج یو، مونږ ته معلومه ده چې په مونږ باندې مشکلات راځي خو په دُعا کولو کښې ډیره سستي کوو، د **الله** پاک د بارګاه نه د مدد غوښتلو رُجحان زمونږ په معاشره کښې ډیر کم شوے دے.

## یو ضروري پریکټیکل

په دُنیا کښې غټ غټ ټیستونه کیږي. راځئ! د یو څو لحظو د پاره مونږه خپل یو ټیسټ اوکړو، مونږه هر کس په خپل زړه کښې لږ شان غور اوکړو چې کله په مونږ باندې څه پریشاني راشي نو زمونږه په زړه کښې د ټولو نه وړومبے خیال د چا راځي؟ عام طور حالات هم داسې وي چې که بیماري راشي نو زمونږه په زړه کښې د ټولو نه وړومبے خیال د ډاکټر راځي، که چرې قانوني مسئله جوړه شي نو وړومبے خیال د وکیل راځي، که چرې د پیسو ضرورت پیښ شي نو وړومبے خیال د خپلو ورونړو، دوستانو، عزیزانو راځي. هر یو کَس دې د خپل زړه نه پوښتنه اوکړي چې آیا داسې نه

---

1...عُیونُ الحِکَایَات مترجم ، جلد:1، صفحه:86 خلاصةً۔

ده؟ کيدے شي چې مونږ ډيرو ته جواب په آو کښې ميلاو شي چې آو! هم داسې ده، د سختۍ او پريشانۍ په وخت زمونږ په زړه کښې د ټولو نه وړومبے خيال د دُنيا د ظاهري اسبابو راځي. دا هم اګرچه ګناه نه ده، البته د يو مسلمان شان دا دے چې هغه کله د پريشانۍ سره مخ شي، د سختۍ سره مخ شي، بيمار شي، څه مسئله ورته راپيښه شي يا خوشحالي ورته نصيب شي، په هر حال کښې هغه ته د ټولو نه وړومبے خيال د خپل **رَبّ** تعالیٰ راتلل پکار دي، د ټولو ظاهري اسبابو اهميت په خپل ځائے، چې څوک بيمار شي نو دوائي هم کول پکار ده، چې په چا سخته راشي نو د ورونړو، دوستانو وغيره نه مرسته غوښتل هم په خپل ځائے صحيح ده خو دا ټول د دويمې درجې څيزونه دي، د يو مسلمان د خپل **رَبِّ** کريم سره داسې مينه پکار ده چې څه هم اوشي، چې هر څنګه حالت وي، چې هر څومره سخته وي، چې د هغه په زړه کښې وړومبے خيال د **الله** پاک راشي.

## کافِر د حضور ﷺ د اخلاقو په ليدلو سره مسلمان شو

په 3 هجرۍ د غزوهٔ غطفان موقع وه، خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره صحابهٔ کرام علیھم الرّضوان په سفر وو، په يو ځائے کښې ئې دمه اوکړه، صحابهٔ کرام علیھم الرّضوان په څه فاصله باندې [دمې دپاره] حصار شول او خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم يواځې د يوې وَنې لاندې تشريف فرما شو، کافرانو به هر وخت محبوبِ خُدا، سردارِ انبيا صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته د نقصان رسولو ناپاکه منصوبې جوړولې، په هغوئې کښې يو کافِر ناڅاپه د چرته نه راغے، توره ئې د نيام نه راويستې وه، د بجلۍ په شان ئې توره ځلوله او د خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خوا ته رانزدې شو او په غرور او تکبر کښې ئې اووئيل: مُحَمَّده صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! اووايه! اوس به تاسو زما نه څوک بچ کوي؟ محبوبِ رحمان، د دوارو جهانونو سلطان صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ډير په اطمينان سره

اوفرمائیل: **الله** (یعنې ما به **الله** پاک بچ کوي).

بس بیا څه وو، درنګ ساعت له هغه کافِر ښکته پروت وو، توره د رحمت والا نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په مبارک لاس کښې وه، اوس هغوئي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: اووایه! اوس به تا زما نه څوک بچ کوي؟ هغه کافِر وو، هغه په مایوسۍ سره اووئیل: زما د بچ کولو والا هیڅ څوک نشته. رحمت عالَم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هغه په بے وسۍ باندې رحم اوکړو او هغه ئې معاف کړو، هغه کافِر چې کله د هغوئي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم داسې اعلیٰ اخلاق اولیدل نو متاثره شو او کلمه ئې اووئیله او مسلمان شو. (1)

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** اوګورئ! زمونږه خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم یواځې وو، ناڅاپه کافِر حمله اوکړه، هغه توره د نیام نه رابهر کړې وه، هغه وخت خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم څه اوفرمائیل؟ ما به زما **الله** بچ کوي.

دا دے زمونږه د خوږ آقا، رسولِ خُدا صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ښکلے ښکلے انداز...! نن سبا ورو ورو زمونږ د معاشرې نه دا انداز ختمیږي، مونږ که لږ شان په تیر وخت غور اوکړو، ډیر نه صرف 50 یا 60 کاله وروستو لاړ شو، په کورونو کښې به یو ماحول وو، مئیندو به خپلو وړو وړو بچو ته عملي طور ذِکْرُ الله ښودلو، ماشوم به چې روان وو او راپرې به وتلو یا به ئې تیندک اوخوړو نو د مور د خُلې نه به بے اختیاره وَتَل: حَسْبِیَ الله. [یا به ئې وئیل: بِسمِ الله] ماشوم به چې د شپې په خوب کښې اویریدو نو مور به سینې ته راجُخت کړو او د **الله** پاک ذِکر به ئې شروع کړو، چې څه د اندیښنې والا خبره به شوه نو د خلقو د خُلې نه به وَتل: **یا الله! خیر...!** یا داسې قِسمه نورې ښکلې ښکلې جُملې به ئې په خُله راتلې خو اوس خلق ماډرن شوي دي، اوس داسې کم انداز کم ښکاري، اوس خو خلق **هئ!**

---

1...شرح زرقانی علی المواہب الدنیه، جلد:2، صفحه:381 خلاصةً۔

**اوهو!** وغيره کوي يا کوم چې ډير ماډرن دي هغوئي په انګلش کښې وائي: ***Oh Shit***. دا هر څه اګرچه ګناه نه ده خو کاش چې په داسې موقعو باندې هم د بے معنې الفاظو وئيلو په ځائے مونږه د **الله** پاک ذِکر شروع کړو، زمونږه تَوَجُّه صرف او صرف د **الله** پاک په لور شي، که سخته راشي، پريشاني راشي، بيماري راشي، قرضداره شُو، مالي تنګي راشي نو زمونږه د ټولو نه وړومبئ تَوَجُّه د خپل خوږ الله کريم طرف ته لاړه شي، مونږ ته به د سختي نه نجات څوک راکوي؟ **الله** پاک به ئې راکوي. د بيمارئ نه به شِفا څوک راکوي؟ **الله** پاک؟، د قرض نه، تنګ لاسئ نه به نجات څوک راکوي؟ **الله** پاک. نو ځکه مونږ له پکار دي چې په اسبابو باندې نه بلکه په مُسَبِّبُ الْاَسْبَاب (يعني په اسبابو جوړونکي **الله** پاک) باندې باور اوساتو، د **الله** پاک په لور د تَوَجُّه ساتلو عادت جوړ کړو، کاش چې زمونږ په زړونو کښې د **الله** پاک پوخ **محبت** پيدا شي او زمونږه د تَوَجُّه مرکز د الله تَعَالٰی پاک ذات جوړ شي.

## د بزرګانِ دِين ښکلے انداز

د حضرت اَبُو الحسن سِرّي سَقَطي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه واقعه ده، د هغوئي په خِدمت کښې يو ځل د هغوئي ګاؤنډئ راغله او عرض ئې اوکړو: اے اَبُو الحسن! د شپې زما ځوئ سپاهيانو نيولے دے او بوتلے ئې دے، کيدے شي چې هغه ته تکليف اورسوي، مهرباني اوکړئ! زما د ځوئ سفارش اوکړئ! د ګاؤنډئ فرياد ئې چې واوريدو نو حضرت سِري سَقَطي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه اودريدو او په عاجزئ سره په لمونځ کښې مشغول شو. چې ښه کافي وخت اوشو نو هغې زنانه اووئيل: **اے اَبُو الحسن! تادي کوئ! هسې نه چې چې حاکم زما ځوئ قيد کړي.** حضرت سِرّي سَقَطي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه مسلسل په لمونځ کښې مشغول وو، بيا ئې د سلام ګرځولو نه پس اوفرمائيل: اے د **الله** پاک بندې! زه خو هم ستا معامله حل کووم، اوس لا دا خبرې کيدلې چې د هغې ګاؤنډئ خادِمه راغله او اوئې وئيل: بي

بي جي! کور ته راځئ! ستاسو څوئ کور ته راغلے دے. [1]

اے عاشقانِ رَسُول! دا دے د تَوَجُّه اِلَی الله (د الله پاک طرف ته د تَوجُّه کولو) مبارک انداز...! زمونږه څه حال دے؟ مونږ چې ناڅاپه د غم څه خبر واورو نو پريشانه کښينو، که څه سخته راشي، پريشاني راشي نو اخوا ديخوا منډې وهو او پته نه لګي چې په څنګه څنګه خيالونو کښې ډوب شو، بعضې خلق خو چې د غم خبر واوري نو واويلا به جوړه کړي، په لاس کښې نيولے شوے ګلاس يا بَل څه څيز به په غصه يا د غم په حالت کښې غورځوي او ماتوي به ئې، څيزونه به اخوا ديخوا اولي راوولي، د الله پاک د نيکانو بندګانو انداز ته اوګورئ څومره ښکلے وي! هغوئي ته چې سخته پيښه شي، پريشاني وريپښه شي نو د الله پاک په حضور کښې حاضر شي، د هغه په بارګاه کښې دُعا کوي، هم هغه ته فرياد کوي، هم هغه فرياد اوريدونکے دے، هم هغه په خپلو بندګانو باندې رحم او کرم کوونکے دے، د الله پاک طرف ته تَوجُّه کولو سره سختې لرې کيږي.

## لمونځ د غم نه بے خبر کړو

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! کاش! چې مونږه هم د نيکانو خلقو والا ښکلے انداز اختيار کړو، يقين اوکړئ! د غم او پريشانئ اصل علاج هُم دا دے چې بنده د رَبِّ کريم په بارګاه کښې حاضر شي. په تفسيرِ نعيمي کښې دي: د حضرت عبد الله بن عبّاس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ څوئ وفات شو، چې کله هغوئي ته د غم دا خبر ميلاو شو نو هغوئي په لمانځه کښې مشغول شول او دومره اوږد لمونځ ئې اوکړو چې کله ئې خلقو څوئ خښ کړو او واپس راغلل، نو بيا هغوئي د لمونځ نه فارغ شول، خلقو ترينه د دې وجه اوپوښتله نو اوئې فرمائيل: زما د خپل څوئ سره ډيره زياته مينه وه، ما د هغه د جدائيئ غم نشو

---

1...عُيون الحكايات مترجم، جلد:1، صفحه:266۔

زغملے، ځکه زه په لـمونځ کښې مشغول شوم او د دې غم نه بے خبره شوم. [1]

سُبْحٰنَ الله! الله پاک دې د خپلو نيکانو بندګانو په وسيله مونږ ته هم هميشه د خپلې پاکې بارګاه په لور د متوجه کيدلو توفيق رانصيب کړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى الله عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسلَّم.

## په هر حال کښې تَوجُّه د رَبّ په لور ساتئ!

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! مونږ ته خو د سختۍ په وخت کښې د خپل رَبِّ کريم طرف ته خامخا متوجه کيدل دي، د دې سره سره د خوشحالۍ په وخت کښې هم د هغه رحمان او رحيم طرف ته تَوجُّه ساتل ضروري دي بلکه دا حالت ډير اهم دے ځکه چې عام طور خلق په خوشحالۍ کښې خپل خوږ رَبّ تَعَالٰی زيات هيروي. حضرت عبد الله بن عبّاس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسلَّم ما ته په نصيحت کښې اوفرمائيل: اِحْفَظِ اللّٰهَ تَجِدْهُ اَمَامَكَ د الله پاک د حقونو حفاظت کوه! تهٔ به هغه ځان ته نزدې اومومې تَعَرَّفْ اِلَى اللّٰهِ فِي الرَّخَاءِ يَعْرِفُكَ فِي الشِّدَّةِ په خوشحالۍ کښې الله پاک ياد ساته! هغه به په تنګ لاسۍ کښې تا ته خاص تَوجُّه فرمائي. [2]

حضرت مُلّا علي قاري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاک لاندې فرمائي: يعنې د کوم څيز چې الله پاک حکم کړے دے، په هغې باندې عمل کوه، د څه نه چې الله پاک منع فرمائيلې ده، د هغې نه ځان ساته، د دې برکت به دا وي چې الله پاک به په دُنيا کښې د مصيبتونو او پريشانو نه او په آخِرت کښې د عذابونو نه ستا حفاظت اوفرمائي. معلومه شوه خوک چې د الله شي، الله پاک د هغه شي. [3]

---

1...تفسير نعيمى، پاره:1، سورهٔ بقره، تحت الآية:45، جلد:1، صفحه:349۔

2...شُعب الايمان، جلد:7، صفحه:203، حديث:10001۔

3...مرقاة المفاتيح، كتاب الرقاق، جلد:9، صفحه:490، تحت الحديث:5302۔

# په خوشحالو کښې رَبّ ياد ساته!

اے عاشقانِ رَسُول! غور اوکړئ! زمونږه د خوږ رسول، رسولِ مقبول صَلَّی اللہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مبارک تعليم څه دے: په خوشحالئ کښې رَبّ ياد ساته! **الله** کريم به په سخت وخت کښې تا ته خاص تَوجُّه فرمائي.

افسوس! په مونږ کښې د ډېرو خلقو حال د دې نه بالکل اُلټا دے، څه خلق په سخته او پريشانئ کښې رَبّ يادوي، چې بيماري راشي، غريبئ کښې اخته شي، کاروبار ئې بند شي، اُميدونه ئې ختم شي نو د **الله** پاک په حضور کښې سر ښکته کړي، لمونځونه هم کوي، ذِکر، دُعا، صدقه او خيرات، په جُماتونو کښې حاضري، اَوراد او وظيفې وغيره هر څه کوي، يقيناً دا ډېره ښه خبره ده خو د افسوس خبره دا ده چې هُم دې خلقو ته کله خوشحالي نصيب شي، پريشانئ ئې لرې شي، خوشحالي پرې راشي نو د ګناهونو نه ډک ژوند ته واپس اوګرځي، ډېر عام شان مثال دے، چې کله په يو کور کښې مړے اوشي، د چا چې مور يا پلار، خور ورور، ترۀ يا بَل څوک رشته دار وفات شي نو په کور کښې غوغا جوړه شي، د سترګو نه ئې اوښکې رواني وي، کله جُمات ته لاړ شي په اِمام صاحب باندې دُعاګانې کوي، کله په کور کښې قرآن خواني کوي خو يو څو مياشتې پس چې کله په هُم دغه کور کښې واده راشي نو بيا داسې نه ښکاري چې يو څو مياشتې مخکښې په دې کور کښې غم شوے وو، ښه ډول باجے او سازونه غږوي، د سندرو محفلونه جوړوي، درز غوبل ئې جوړ کړے وي، ټوله محله ئې په سر راخستې وي او ګاؤنډيان خوب ته نه پريږدي. يقيناً د 3 ورځو نه زيات غم کول شرعاً جائز نه دے خو د خوشحالئ په وخت ګناهونه کول هم شريعت منع کړي دي. مونږه ولې په خوشحالو کښې خپل رَبّ هيروو؟ د واده په موقع، د اخترونو په موقع، د ماشومانو د سالګرې په موقع مونږ نه د شريعت تعليمات ولې هير شي...؟

## د کافِرانو یو بد عادت

الله پاک په قرآنِ کریم کښې فرمائي:

وَ اِذَا مَسَّ الْاِنْسَانَ الضُّرُّ دَعَانَا لِجَنْۢبِهٖۤ اَوْ قَاعِدًا اَوْ قَآىٕمًاۚ فَلَمَّا كَشَفْنَا عَنْهُ ضُرَّهٗ مَرَّ كَاَنْ لَّمْ یَدْعُنَاۤ اِلٰى ضُرٍّ مَّسَّهٗؕ كَذٰلِكَ زُیِّنَ لِلْمُسْرِفِیْنَ مَا كَانُوْا یَعْمَلُوْنَ(۱۲) (پاره11، سورهٔ یونس:12)

[مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالعِرفان: او چې کله انسان ته تکلیف اُورسي نو په ملاسته او په ناسته او په ولاړه (هر حالت کښې) زمونږ نه دُعا غواړي، بیا چې کله مونږه د هغه تکلیف لرې کړو نو داسې لاړ شي لکه زمونږ نه ئې چې د یو تکلیف په رسیدلو هډو دُعا نه وه غوښتې، د حد نه تیریدونکو د پاره د هغوئي اعمال هُم دغسې ښکلي جوړ کړے شول (۱۲)

په **تفسیر صراطُ الجنان** کښې دي: یعني کافِر ته چې کله تکلیف اُورسي نو هغه په ملاسته او په ناسته او په ولاړه، په هر حال کښې مونږ ته سوال کوي او تر څو پورې چې د هغه نه تکلیف نه وي لرې شوے په دُعا کښې مشغول اوسي، بیا چې کله مونږه د هغه نه تکلیف لرې کړو نو هغه زمونږ نه مخ واړوي او په خپله مخکښینۍ طریقه باندې روان شي او هم هغه د کُفر لار اختیار کړي او د تکلیف وخت هېر کړي لکه چې کله هم د څه تکلیف رسیدو باندې هغه زمونږ نه هډو دُعا نه وي کړې.

د دې آیت مقصد دا دے چې انسان د مصیبت په وخت کښې ډیر بے صبره دے او د خوشحالۍ په وخت کښې ډیر ناشکره دے چې کله ورته تکلیف اورسي نو په ولاړه، په ملاسته، په ناسته هر حال کښې دُعا کوي او چې کله ترینه الله پاک تکلیف لرې کړي نو شُکر نه ادا کوي او د خپل زوړ حالت طرف ته واپس لاړ شي. دا حال د غافِل کس دے. د عقلمند مومن حال د دې خلاف دے هغه په مصیبت او بلا باندې صبر

کوي او په راحت او آرام کښې شُکر کوي، د تکليف او خوشحالئ په حالاتو کښې د **الله** پاک په حضور کښې زاري فرياد او دعا کوي. (1)

معلومه شوه چې کوم عقلمند مؤمِن دے، هغه په هيڅ حال کښې کله هم د خپل **رَبِّ** کريم نه نۀ غافِله کيږي، د هغه تَوجُّه هر وخت د خپل خوږ **الله** پاک طرف ته وي، کله چې هغه ته نعمت ميلاو شي نو د خپل **رَبّ** شکر ادا کوي او د هغه په بارګاه کښې سر ټيټوي او کله چې ورته مصيبت اُورسي نو د خپل خوږ **الله** پاک په بارګاه کښې توبه کوي، اِستغفار کوي، دُعاګانې غواړي، دغسې هر وخت د هغه د تَوجُّه مرکز صِرف يو وي، هغه هر وخت د خپل خوږ **الله** پاک طرف ته متوجه اوسي.

## د الله پاک طرف ته منډې کړئ...!

په ووه ويشتمه سيپاره، سورۀ **ذارِيات**، آيت: 50 کښې **الله** پاک فرمائي:

**فَفِرُّوْۤا اِلَى اللّٰهِؕ** (پاره: 27، سورۀ ذاريات، آيت: 50) [مَفهُوم]ترجمۀ کنزُالاِيمان: او د **الله** طرف ته منډې کړئ.

يعنې اے محبوبه صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! تاسو اوفرمائے چې اے خلقو! د **الله** پاک طرف ته منډې کړئ...! حضرت سهل تُستري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې آيت لاندې فرمائي: اے خلقو! مَا سِوَی الله (يعنې د **الله** پاک نه سيوا د دُنيا هر څيز) پريږدئ او د **الله** پاک طرف ته منډې کړئ! (2)

## په غُلام باندې د عناياتو ځانګړے سبب

يو بادشاه وو، د هغه ډير غلامان وو، ټولو به په خپل خپل لحاظ سره د بادشاه پوره

1...تفسير صراط الجنان، پاره:11، سورۀ يونس، تحت الآية:12، جلد:4، صفحه:293۔

2...روح البيان، پاره:27، سورۀ ذاريات، تحت الآية:50، جلد:9، صفحه:171۔

پوره خِدمت کولو خو د بادشاه د خپل يو غلام سره ډيره مينه وه، په هغه باندې به ئې مهربانئ هم ډيرې زياتې کولې، دا خبره به په نورو غلامانو باندې بده لګيده، يوه ورځ هغه ټولو همت اوکړو او بادشاه ته ئې اووئيل: بادشاه سلامت! څه وجه ده چې تاسو د دې غلام سره ډيره مينه کوئ، په ده باندې مهربانئ هم ډيرې کوئ؟ بادشاه سلامت په معامله باندې پوهه شو، نو اوئې وئيل: مونږ به په يو سفر ځُو، ټول تياري اوکړئ، مونږ به ډير زر په سفر روانيږو. تيارياني شروع شوې، د بادشاه سلامت په حضور کښې سورلئ وړاندې کړے شوه، ټول غلامان هم ورسره شو او بادشاه سلامت ټول غلامان د ځان سره کړل او په سفر روان شو، تلل تلل، يو ځائے ته چې اورسيدل نولړې ئې د واورې يو غر اوليدو، ټول غر واورې پټ کړے وو، ډيره ښکلې نظاره وه، بادشاه سلامت اودريدو، د بادشاه په ادب کښې غلامانو هم سورلئ اودرولې خو هغه يو غلام د کوم چې به بادشاه ډير خيال ساتلو، هغه خپل آس په منډه کړو، ټول حيران شول چې په ده څه اوشو؟ دا چرته ځي؟ لږ وخت پس هغه غلام واپس راغلو، هغه په لاسونو کښې په هُم هغه غر باندې پرته څه واوره راخستې وه. بادشاه سلامت ترينه په قهريدلي آواز کښې پوښتنه اوکړه: ته چرته تلے وې؟ او دا واوره دې ولې راوړه؟ غلام عرض اوکړو: بادشاه سلامته! تاسو دې غر ته په غور کتلي وو او ما ته پته ده چې تاسو بغير د څه وجهې نه څه ښيز ته په غور نه ګورئ، ځکه زه پوهه شوم چې تاسو واوره حاصلول غواړئ. په دې باندې بادشاه نورو غلامانو ته مخاطب شو او اوئې وئيل: په ده او په تاسو کښې دا فرق دے، ستاسو تَوَجُّه کارونو ته وي خو د ده د تَوَجُّه مرکز زه يم، ده د هر ښيز نه توجه اړولې وي او هر وخت زما طرف ته متوجه اوسي. (1)

اے عاشقانِ رَسُول! دا حقيقي بندګي ده. خو زمونږه حال ډير مختلف دے، چې په

---

1...رساله قشيريه، باب المراقبه، صفحه:226225 خلاصةً

مونږ څه خوشحالي راشي نو مونږه په هم هغه خوشحالئ کښې غافله پاتې شو، که څه غم راباندې راشي نو په غم کښې بے حاله پراته اوسو، نه راته په خوشحالئ کښې **الله** پاک یادیږي، او نه په غم کښې په صحیح معنو کښې د **الله** پاک طرف ته متوجه کیږو. چې خوشحالي راباندې راشي نو په ګناهونو کښې اخته شو او که څه غم راته پیښ شي نو بعضې خلق ګیلې قیصې شروع کړي بلکه بعضې نادانه خو په دې حالت کښې مَعَاذَالله! کُفریه خبرې هم اوکړي. **الله** پاک دې مونږ ته حقیقي بندګي رانصیب کړي. کاش! چې زمونږه تَوَجُّه په هر حال کښې د **الله** پاک په لور اوسي، چې که خوشحالي رانصیب شي نو چې د هغې شُکر ادا کړو، او که څه غم راته پیښ شي نو چې صبر اوکړو، د هغه په بارګاه کښې سجده اوکړو، دعاګانې اوغواړو، هُم د هغه په بارګاه کښې ژړا او زاري فریاد اوکړو. **الله** پاک دې مونږ له توفیق راکړي.

محبت میں اپنی گما یااِلٰہی! | نہ پاؤں میں اپنا پتا یااِلٰہی!
رہوں مست و بےخود میں تیری وِلا میں | پِلا جام ایسا پِلا یااِلٰہی!
کروں تیری حمد و ثنا یااِلٰہی! (1) | میں بے کار باتوں سے بچ کر ہمیشہ

## آیا تاسو ته درد محسوس نه شو...؟

حضرت رابعه بصریه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيها ډیره نیکه زنانه وه، یوه ورځ هغه په یو ځائے تیریدله چې په سر ئې د دیوال نه یوه خخته راپریوتله او وینه ترې روانه شوه خو حضرت رابعه بصریه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيها د هغې طرف ته هډو تَوَجُّه اونکړه، خلقو ترې پوښتنه اوکړه: آیا تاسو ته تکلیف اونه رسیدو؟ د حضرت رابعه بصریه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيها ډیر ښکلے جواب واورئ! اوئې فرمائیل: دا خخته پخپله نه ده راپریوتلې بلکه د **الله** پاک په اراده راپریوتې

---

1...وسائل بخشش، صفحہ:105۔

دہ، زما سر پرې پخپله نه دے لګيدلے بلکه د **الله** پاک په اراده پرې لګيدلے دے، زه خو په دې سوچ کښې يم چې زما د خوږ **الله** پاک اراده زما طرف ته شوې دہ، ځکه ما ته د دې تکليف هډو احساس اُونه شو. (1)

سُبۡحٰنَ الله! دا څومره عظيمه خبره دہ، څومره د کمال سوچ دے. په خخته لګيدلې دہ، د سر نه ئې وينې بهيږي خو حضرت رابعه بصريه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهَا په دې سوچ کښې ډوبه دہ چې د **الله** پاک اراده زما په لور شوه. يو پنجابي شاعِر څه ښکلي وئيلي دي:

جے سوہنا میرے دُکھ وِچ راضی | میں سُکھ نُوں چُلھے پاواں

**وضاحت:** يعني که زما د خوږ **الله** پاک رضا هُم دا دہ چې ما ته په دُنيا کښې څه تکليف را اورسي نو زه خوشحالئ وور ته غورځووم، ما ته زما د **رَبّ** رضا منظور دہ.

**الله** پاک دې مونږ ته هم داسې توفيق رانصيب کړي. کاش! چې داسې توفيق رانصيب شي چې که خوشحالئ مو نصيب شي يا که څه غم راپيښ شي، چې په سختئ او آساني، پريشانئ او خوشحالئ هر حال کښې د **الله** پاک طرف ته متوجه اوسو، **کاش!** د **الله** پاک په رضا د راضي اوسيدو سوچ رانصيب شي. اٰمِين بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم .

## په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: مدني مذاکره

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د نيک لمونځ ګزاره جوړيدو، په سُنتو د عمل کولو او د ګناهونو نه د بچ کيدو د پاره د ديني تحريک دعوتِ اِسلامي ديني ماحول کښې شامل اوسئ! په 12 ديني کارونو کښې هم ښه په شوق سره برخه اخلئ! اِنۡ شَآءَ اللهُ الۡکَرِیۡم! د دنيا او د آخِرت بے شميره برکتونه به مو نصيب شي. په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار **مدني مذاکره** هم دہ.

---

1...الکواکب الدرية، طبقه ثانيه، حرف راء، رابعه عدويه، جلد:1، صفحه:270 خلاصةً۔

شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت حضرت علّامه مولانا ابو بلال محمد الیاس عطّار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د هر اتوار په شپه د ماسخُتن د لمانځه نه پس په مدني چینل باندې نیغ په نیغه (یعني Live) **مدني مذاکره** فرمائي یعني د ټولې دنیا نه د عاشقانِ رسول له طرفه شوو سوالونو د عِلم او حِکمت نه ډک جوابونه ارشاد فرمائي. تاسو هم په **مدني مذاکره** کښې شرکت کوئ او ډیرې نیکئ اوګټئ! راځئ چې د ترغیب د پاره د **مدني مذاکرې** یو مدني سپرلے واورو:

## د ماډرن ځلمي توبه

د منډي بهاؤ الدين (صوبه پنجاب، پاکستان) د اوسیدونکي یو اسلامي ورور د لیک خلاصه ده چې د دعوتِ اسلامي ماحول ته راتلو نه مخکښې ما د ګناهونو په هلاکوونکو کندو کښې در په در ټوکرې خوړلې. هر وخت به مې په زړه او دماغو کښې د فیشن خیال وو او د نیکو نه لرې د دنیا په رنګینو کښې مې ژوند بربادولو. یو ځل یو مبلغ د دعوتِ اسلامي زیرانتظام کیدونکي د آخرئ عشرې د اجتماعي اعتکاف ډیر ښه ترغیب راکړو، د هغې په نتیجه کښې د **الله** پاک په فضل او کرم سره ما ته د اعتکاف سعادت رانصیب شو، د اجتماعي اعتکاف خوندور ماحول، زړه راښکونکي بیانونه، د پیښمني او روژه ماتي روحاني نظارې مې ډیرې خوښې شوې، په کرم د پاسه کرم دا چې د امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه علمي او روحاني **مدني مذاکرو** او د ژړا نه ډکو دُعاګانو مې د زړه نه د ګناهونو زنګ لرې کړو. زما د ګناهونو د تورو تیارو ژوند کښې د عشقِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رڼا خوره شوه. ما د خپلو ګناهونو نه رښتوني توبه اوکړه او د امیر اهلسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه نه مې د بیعت [یعني د مُرید کیدلو] شرف هُم حاصل کړو، اَلْحَمْدُ لِلّٰه! ګیره مبارکه مې پریښوده، عِمامه مې په سر کړه او د سُنَّتو نه ډک ژوند تیرولو د پاره مې د دعوتِ اسلامي دیني ماحول اختیار کړو.

| | |
|---|---|
| مقبول جہاں بھر میں ہو دعوتِ اسلامی | صدقہ تجھے اے ربِّ غَفّار! مدینے کا |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د لـمونځونو د وختونو (*Prayer Times*) د ايپ تعارُف

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د دعوتِ اسلامي آئي ټي ډيپارټمنټ يو ډير ښکلے موبائل ايپلي کيشن د اوقاتِ نماز (د لـمونځونو وختونه) په نوم جاري کړے دے ❀ د دې ايپلي کيشن په ذريعه په ټوله دنيا کښې د هر ځائے وختونه او د قبلې اړخ معلوميدے شي ❀ د دې نه علاوه د پينځه وارو لـمونځونو د وختونو ماهانه ټائم ټيبل ❀ ذِکرونه (روحاني علاج) ❀ مدني چينل ريډيو ❀ د لـمونځونو په وختونو کښې د موبائل سائلنټ (*Silent*) کولو سهولت او اسلامي کلينډر موجود دے. په خپل موبائل کښې دا ايپلي کيشن انسټال کړئ او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د بيان په آخره کښې د سُنّتو فضيلت او د ژوند ځينو آدابو بيانولو سَعَادت حاصلووم. تاجدارِ رِسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِي فَقَدْ اَحَبَّنِي وَمَنْ اَحَبَّنِي كَانَ مَعِي فِي الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّتو سره محبت اوکړو هغه زما سره محبت اوکړو او چا چې زما سره محبت اوکړو هغه به په جنّت کښې زما سره وي. (1)

| | |
|---|---|
| سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا |

1...تاريخ دمشق، جلد:9، صفحه:343۔

## په ځناورو باندې رحم کول د خوږ مصطفٰے ﷺ سُنَّت دي

**د خوږ مصطفٰے** صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **2 فرامين:** **(1)** تاسو د دې بے زبانه ځناورو په باره کښې د **الله** نه اُويريږئ په دوئي هغه وخت سوَرلي کوئ کله چې دوئي په ښه حالت کښې وي او په دوئي باندې په ښه طريقه خوراک کوئ. [1] **(2)** په هر رُوح لرونکي باندې د شفقت [مهربانئ کولو] اجر ميلاويږي. [2]

**اے عاشقانِ رَسُول!** په ځناورو باندې رحم کول د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سُنَّت دي ❀ رحمتِ عالم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به په ځناورو باندې ډير شفقت کولو ❀ هغوئي صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د ځناورو فرياد اوريدلو او د هغوئي مدد به ئې کولو ❀ يو ځل هغوئي صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د يو اوښ په فرياد باندې د هغه مالک ته اوفرمائيل: **تهٔ دا اُوږے ساتې او کار ترينه زيات اخلې** [3] ❀ که چرې چا به ځناورو ته تکليف ورکولو نو هغوئي صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به خفه کيدلو ❀ هغوئي صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د ځناورو په خپل مينځ کښې د جنګولو، هغوئي په تړلو د وهلو، او د هغوئي د مُثله کولو (يعني مخ ورانولو) نه منع فرمائيله. [4]

ہرن نے، اونٹ نے، چڑیوں نے کی یہی فریاد | کہ ان کے غم کا مداوا حضور جانتے ہیں

**الله** پاک دې مونږ له هم د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په سُنَّت باندې د عمل کولو او په ځناورو باندې د شفقت کولو توفيق راکړي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

---

1...ابوداؤد، کتاب:جهاد، صفحه:408، حديث:2548۔
2...بخاری، کتاب:مظالم وغصب صفحه:635، حديث:2466۔
3...ابوداؤد، کتاب:جهاد، صفحه:408، حديث:2549 خلاصةً۔
4...سيرت رسول عربی، صفحه:332 تا 335 ملتقطاً۔

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مَکْتَبَةُ الْمَدِيْنه د **بهارِ شريعت** جلد 3 نه شپاړسمه حصه او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 صفحو کتاب **550 سنتيں او آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سُنّتو زده کولو يوه ذريعه د دعوتِ اسلامي په قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے.

لوٹنے رحمتيں قافلے ميں چلو | سيکھنے سنتيں قافلے ميں چلو
ہوں گی حل مشکليں قافلے ميں چلو | ختم ہوں شامتيں قافلے ميں چلو

الله پاک دې مونږ له د عمل کولو توفيق راعطا کړي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

# د دعوتِ اسلامي هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګاني

## ﴾1﴿ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپې] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمعے او زيارت مينځنئ شپه باندې) دا دُرُود شريف پابندئ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبْر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې

سرکارِ مدینه صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا وَ مَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰی اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سیِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللهُ عَنْه نه روایت دے چې تاجدارِمدینه صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي که ولاړ وو نو کښیناستلو نه مخکښې او که ناست وو نو اودریدلو نه مخکښې به د هغه ګُناهونه مُعاف کړے شي. راځئ چې مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو.

## ﴿3﴾ د رَحمت اویا دروازے:

صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اویا دروازے بیرته کړے شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿4﴾ د شپږ لاکه دُرُودشریف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِیْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحْمَد صَاوِی رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شریف یو ځل لوستلو باندې د شپږو لاکو دُرُود شریف لوستلو ثواب حاصِلیږي.[3] راځئ چې په

1... افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ السادسة والخمسون، ص۱۵۱ ملخصًا

2... القول البدیع، الباب الثانی، ص۲۷۷

3... افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ الثانیة والخمسون، ص۱۴۹

شريکه ئې اُووائيو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَ تَرْضٰى لَهٗ

يوه ورځ يو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اکبر رضی الله عنه تر مينځه کښينولو، په دې باندې صَحابَۀ کرام رضی الله عنهم حيران شو چې دا څوك ذِی مَرتبه [يعني اوچتې مرتبې والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[1] راځئ چې مونږ ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکئ:

جَزَى اللهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رضی الله عنهما نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

---

1... القول البديع، الباب الاول، ص۱۲۵

2... الترغيب والترهيب، كتاب الذكر و الدعاء، ۲/۳۲۹، حديث:۳۰

فرمائیلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے یو زر ورځو پورې نیکئ لیکي.[1] راځئ چې مونږه ئې هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[2] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شریکه اووائیو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الۡحَلِيۡمُ الۡكَرِيۡمُ ، سُبۡحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبۡعِ وَرَبِّ الۡعَرۡشِ الۡعَظِيۡم

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِيۡب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

1... مجمع الزوائد، کتاب الادعیة، باب فی کیفیة الصلاة...الخ، ۱۰/۲۵۴، حدیث:۱۷۳۰۵

2... تاریخ ابنِ عساکر، ۱۹/۱۵۵، حدیث:۴۴۱۵